روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۶ ماه جدی سال ۱۳۹۶

## پیام جلالتمآب سر پرست وزیر وزارت معارف به مناسبت ۳۸ مین سالگرد تجاوز قشون سرخ بر افغانستان

دقیقاً سی وهشت سال پیش ( ۶ جدی ۱۳۵۸ خورشیدی) در همین روز قلمرو کشور عزیز ما، افغانستان از سوی قشون سرخ اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی وقت مورد تهاجم نظامی قرار گرفته که ضمن ویران شدن زیربنا ها و تاسیسات اقتصادی که خسارات هنگفت مالی را به جا گذاشت، یک ونیم میلیون از هموطنان عزیز ما نیزبه شهادت رسیده و به صدها هزار تن دیگر معلول و معیوب به جا ماندند. شمار زیادی از دانشمندان، مهندسان، دکتوران، معلمان، هنرمندان و سایر اقشار جامعه به کشور های بیرونی متواری و مهاجر گردیدند.

ملت غیور، مسلمان و سلحشور ما که به گواهی تاریخ هیچگاهی یوغ اسارت بیگانگان را نه پذیرفته و زنده گی ذلت بار را به هیچ وجه قبول نکرده اند و به توکل به خدا (ج) و باور به آزادی، کمر جهاد علیه این هیولای قرن را بستند و در این راه از هیچگونه خودگذری دریغ نکردند که در نتیجه با متانت و پایمردی که خاصهٔ افغانهاست، توانستند که دشمن متجاوز را به زانو در آورند و به آرمان های ملی و دینی خویش نایل آیند.

اما با تأسف باید یادآورشد که به اساس یک سلسله دسایس و مداخلات اجانب و بیگانگان که افغانستان مقتدر و توانمند خار چشم آنها می باشد، آرمانهای را که مبنای آن اعمار یک جامعه مرفه و اسلامی بود، به اثر تحمیل



جنگ های خانمانسوز و تباهکن از بین بردند.

درحالی که تجاوز ششم جدی را به خاک مقدس خود، محکوم می نمائیم باید اذعان نمائیم همانطوریکه افغان ها مردمان معرکه و آزادیخواهی می باشند، مردمان قلم هم هستند که با یاری خداوند عزوجل در این راه نیزپیشرفت های را نصیب شده و خواهیم شد...

(ص۲)

## یونیسف له پوهنې وزارت سره نږدې ۴۸ میلیون ډالرو په ارزښت مرسته وکړه

د افغانستان د پوهنې وزارت او د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ اداري



(یونیسف) ترمنځ د نږدې ۴۸ میلیون ډالرو په ارزښت د مرستو او همکاریو یو هوکړه لیك د پوهنې وزارت د غونډو په تالار کې لاسلیك شو. د پوهنې سرپرست وزیر ښاغلي ډاکټر محمد ابراهیم شینواري د یاد تړون د لاسلیك پرمهال وویل، چې یونیسف دغه مرسته د ۲۰۱۸-۲۰۱۹ کلونو لپاره د پوهنې وزارت د څو عمده برخو د پیاوړتیا او پراختیا په موخه کړې ده.

ښاغلي شینواري زیاته کړه، چې دا مرسته له پوهنې وزارت سره د پالیسیو او ستراتیژیو د جوړولو، د ظرفیتونو د لوړولو، د ښوونیز نصاب د پراختیا او باکیفیته زده کړو ته د افغان ماشومانو د لاسرسي په موخه شوې ده.

د پوهنې وزارت سرپرست وویل، د دغې مرستې پرمټ به پوهنې وزارت د نجونو د زده کړو، له ښوونځي د بهر ماشومانو، د ژر زده کړې او د راپور ورکولو او ښوونیز نظارت په برخه کې علمي پالیسیو او ستراتیژیو ته پراختیا ورکړي. دغه راز به د ښوونیز نصاب په برخه کې د درسي پروګرام د چار چوکاټ بیاکتنه، د لومړي ټولګي د ټولو مضامینو د درسي پروګرام او د ژر زده کړو پروګرام پیاوړتیا او پراختیا هم ددې پروګرام یوه برخه ده.

ښاغلي شینواري یادونه وکړه، چې په دغه پروګرام کې باکیفیته زده کړو ته د افغان ماشومانو د لاسرسي په برخه کې د ټولنیز خوځښت د ۱۰ زره غړیو د ظرفیتونو لوړول، له ښوونځي د وړاندې زده کړو...

(۲مخ)

## افتتاح دو باب مکتب در ناحیه ۱۲ شهر کابل

دو باب مکتب در مربوطات ناحیه دوازدهم شهر کابل با حضور رئیس و هیات رهبری ریاست معارف شهر کابل شماری از مدیران حوزه ها و استادان مکاتب و محاسن سفیدان نیز اشتراک داشتند افتتاح و بهره برداری سپرده شد.در نخست، دکتور سعید منصور رئیس معارف شهر کابل افتتاح مکتب جدید شمس تبریز را برای اهالی شریف منطقه تبریک گفته اذعان داشتند: « چنانچه می دانیم یگانه راه پیشرفت و ترقی یک کشور مربوط به موجودیت یک نظام آموزشی معیاری و علمی می باشد بناءً دولت و رهبری وزارت معارف کماکان کوشیده تا در این راستا به حمایت و کمک جامعه بین المللی در جهت بهود و ضعیت کمی و کیفی معارف تلاش جدی و مستمر نمایند» محترم رئیس معارف شهر کابل با اشاره به پلان های مطروحه این وزارت به هدف غنامندی هرچه بیشتر سیستم تعلیم و تربیه درکشور افزودند: «رهبری وزارت معارف سعی نموده تا به منظور ارتقای سطح دانش شاگردان مطابق به پیشرفت های علمی و تخنیکی دنیای معاصر، و با استفاده از هر وسیله ممکنه سهولت های لازم آموزشی را به اولاد وطن فراهم نماید.»

گفتنی است که تعمیر ابتدائیه شمس تبریز واقع فامیلی های امنیت ناحیه دوازدهم شهر کابل دارای ۶ صنف درسی، دو اتاق اداری با تمام ملحقات آن بصورت پخته و اساسی اعمار



گردیده است که جمعاً مبلغ (۱۴۰) هزار دالر امریکایی که از طرف کشور جاپان مساعدت صورت گرفته است، هزینه برداشته است.طبق یک خبر دیگر به ارزش ۹۰ هزار دالر امریکایی از کمک های مردم جاپان ۸ صنف درسی ۴ اتاق اداری مجهز با میز و چوکی بوده که در محوط لیسه عبدالروف بینوا مربوط ناحیه دوازدهم شهر کابل اعمار و کار ساختمانی آن در مدت ۸ ماه به اتمام رسیده است، نیز افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

## د پوهنې د سمون فوق العاده ناسته وشوه

د هغه پلان د عملي کولو په موخه، چې د پوهنې وزارت د سمون په موخه جوړ شوی، د وزارت په مقام کې فوق العاده ناسته وشوه. په ناسته کې د پوهنې سرپرست وزیر ډاکټر محمد ابراهیم شینواري، د وزارت معین صاحبانو او د مرکزي ریاستونو مشرانو برخه اخیستې وه. د وزارت سرپرست په پیل کې په دې اړه، چې یاد پلان څنګه په موثر ډول عملي کېدلای او نتایج یې محسوسېدلای شي خبرې وکړې. نوموړي په دې اړه ۱۲ ګوني کمېټې اعلان کړې، چې هره کمېټه به د اصلاح یوه برخه پرمخ بیایي او د هر پړاو د پرمختګ رپوټ به د وزارت مقام ته ورکوي.

د اصلاحاتو تر ټولو مهمې برخې تشکیلات، ګومارنې، مالي، تدارکاتي، د کتابونو چاپ او وېش، بشري سرچینې...

(۲مخ)

## ۲۰۱ سیلاب قول اردو د ننګرهار له پوهنې ریاست سره د کمپیوټرونو مرسته وکړه

په ختیځ کې د ۲۰۱ سیلاب قول اردو د ننګرهار د پوهنې له ریاست سره د ۷۰ پایو کمپیوټرونو مرسته وکړه. دغه کمپیوټرونه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې په یاده قول اردو کې جوړ شوي و، د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولینو ته وسپارل شول.

د یادې قول اردو مرستیال برید جنرال محمد علي شجاعي په خپلو خبرو کې یادونه وکړه، چې دوی له دې وړاندې هم له ښوونځیو او تعلیمي مرکزونو سره د قرطاسیې او نورو درسي توکو مرسته کړې د پوهنې وزارت او ملي دفاع وزارت ترمنځ د شوي یو تړون پر اساس د ننګرهار د پوهنې له ریاست سره د هغو ۷۰ پایو کمپیوټرونو، چې د دفاع وزارت له سیستم څخه وتلي، خو په اداري او نورو برخو کې ترې ګټه اخیستل کېږي؛ مرسته کوي...

(۲مخ)

سرمقاله:

# نظام معارف با کیفیت ضامن پیشرفت جامعه است

از پیدایش انسان بروی زمین همه انسانها کوشش برآن داشتند تا سهولت های را در امورات روزمره خویش به وجود بیاورند تا رفته، رفته به این آرزوهای خویش رسیدند. جوامع بشری باکسب علم ودانش توانستند مشکلات که سد راه زندگی مرفع شان می شد از راه برداشته و به سهولت های که زندگی یک انسان مدرن را تضمین می کرد دست یافتند. امروز که جهان با پیشرفت های چشمگیر به علم و تکنالوژی دست یافته اند نتیجه زحمات است که آنها در راه تعالی و ترقی کشور شان کشیده اند. مردم ما با وجود اینکه با مشکلات زیادی از جمله جنگ های تحمیلی بیگانگان دست و پنجه نرم می کنند با درک جایگاه علم و دانش فرزندان شان را جهت فراگیری این نعمت بزرگ الهی روانه مکاتب کردند که در جنب آن وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان وجیبه ملی و دینی خود می داند که سهولت های لازم را برای اولاد کشور فراهم بسازد تا آنها بتوانند با خاطر آرام و دور از هر نوع مشکلات به آموختن علم ودانش، و این فریضه الهی دست یابند. وزارت معارف با گذشت هر روز به کوشش های خویش در عرصه دست رسی به یک معارف متوازن و یک نظام معارف که از هر حیث جواب دهنده تقاضای یک جامعه مدرن باشد ادامه میدهد چنانکه درین عرصه به پیشرفت های زیاد هم نایل آمده است وزارت معارف تا حالا ۸،۲۴ میلیون شاگرد را در نهاد های تعلیمی خود دارد که این رقم نسبت به سال های گذشته یک رقم درشت را نشان میدهد همچنان بیشتر از ۲۰۰،۰۰۰ استاد درین نهاد ها به اولاد کشور آماده خدمتگذاری اند درتمام کشور بیشتر از ۱۷،۴۰۰ باب مکاتب فعال است. وزارت معارف در سدد آن است که تا در آینده نه چندان دور نظام معارف کشور را هم سطح معارف کشور های همسایه ساخته و درین عرصه اقدامات جدی را هم روی دست گرفته اند یکی از مشکلات عمده که سد راه پیشرفت معارف در کشور است همانا نبود کتب درسی در مکاتب و نهاد های تعلیمی است که وزارت معارف طی سال جاری به سطح کشور حدود بیشتر از ۲۱ میلیون جلد کتب درسی را به تمام مکاتب کشور توزیع نموده است که این روند با سرعت هر چه تمامتر آن ادامه دارد همچنان به منظور نظارت از شیوه های تدریس، آموزش و کیفیت تدریس در مکاتب کشور سالانه سه مرتبه این مکاتب مورد نظارت قرار می گیرند استخدام معلمان مسلکی از طریق پروسه آزاد که کاملاً یک پروسه شفاف است از جمله اولویت های وزارت معارف به شمار می رود و در ولایات کشور هم غرض بلند بردن سطح علمی استادان که سویه های تعلیمی شان به سطح بکلوریا است با ایجاد دارالمعلیمن ها توانسته است که تعداد زیادی از معلمان را به سطح چهارده پاس فارغ نمایند که این روند هنوز هم ادامه داشته و در بلند بردن سطح کمی و کیفی نظام معارف رول ارزنده خود را دارد تجدید نظر روی نصاب تعلیمی هم یکی از برنامه های وزارت معارف بوده که این پروسه هم با جدیت تمام درحال اجرا است و عنقریب به پایه اکمال خود خواهد رسید و شکایات که از بابت نصاب تعلیمی موجود بود نقطه پایان گذاشته خواهد شدآموزش ساینس و تجهیزات مکاتب با لابراتوار های ساینس در بهبود کیفیت تدریس و آموزش خاصتاً مضامین ساینسی نقش اساسی دارد با توجه به این اصل وزارت معارف تلاش دارد تا مراکز ساینسی در مکاتب تعلیمات عمومی و سایر مراکز تعلیمی ایجاد و تجارب ساینسی بصورت عملی انجام گردد به تعداد ۷۶۶۱ تن معلم و تکنیشن لابراتوار توسط اعضای علمی ریاست مرکز ساینس به سطح مرکز و ولایات در بخش مضامین کیمیا، فزیک، بیولوژی و ریاضیات و استفاده از مواد محیطی آموزش دیده اند و به تعداد ۹۳ باب مکتب در ولایات مختلف به کمک مالی موسسه ایشیا فوندیشن و GIZ با مواد لابراتوار تجهیز گردیده است.هدف کلی وزارت معارف برآن است تا همه اطفال سن مکتب بدون تبعیض و بطور متوازن در سراسر کشور به تعلیم و تربیه با کیفیت دسترسی پیدا کرده تا قابلیت های لازم برای زندگی سالم و موفق فردی، فامیلی و اجتماعی و ادامه تحصیل درسطح تحصیلات عالی را بدست آورند. شاگردان عزیز! شما که آینده سازان کشور جنگ زده ما هستید یگانه راه پیشرفت و تعالی کشور در آموزش و کسب علم مهیا است و بس وقت را از دست نه داده با سرعت هر چه بیشتر بیاموزید که یگانه راه نجات ما از این همه بدبختی ها کسب علم و دانش است و از والدین گرامی هم تقاضامندیم که در عرصه بهبود نظام معارف کشور ما را یاری رسانده فرزندان شان را تنها نه گذاشته از روند آموزش فرزندان شان در مکاتب دیدن نموده به مشکلات و چالش های که سد راه آموزش فرزندان و نظام معارف است با ما کمک و یاری نمایند.

بقیه صفحه اول

## پیام جلالتمآب سر پرست...

رهبری وزارت معارف با درک این مسوولیت که تعلیم و تربیه و نظام معارف معیاری و پیشرفته می تواند افق روشن و ترقی کشور را مهیا سازد، همواره کوشیده تا در جهت غنامندی آن در حمایت از دولت جمهوری اسلامی افغانستان و جامعهٔ بین المللی و با طرح و تطبیق پلان های ملی معارف بتواند، کشور را از عقب مانی فعلی به یک جامعه روپایی و شکوفا مبدل سازد.

رهبری وزارت معارف افغانستان باوردارد که هیچگاهی این وزارت نمی تواند به تنهایی برای رسیدن به این مأمول مؤفق گردد، بناءً کماکان از هموطنان عزیز به ویژه علمای کرام، شخصیت های متنفذ قومی، تجار و سرمایه داران ملی می طلبد تا معارف خویش را مورد حمایت مادی و معنوی قرار داده تا باشدبه استناد حدیث مبارک نبی اکرم (ص) مشمول صدقات جاریه شوند.

آزادی زمانی حفظ شده می تواند که کشور ما از لحاظ علمی پیشرفت کند و این تنها می شود از راه معارف تامین گردد.

د لومړي مخ پاتې

## ۲۰۱ سیلاب قول ...

د ننګرهار د پوهنې سرپرست رییس سید عیسی سادات د ۲۰۱ قول اردو له یادې مرستې مننه وکړه، زیاته یې کړه، چې له دغو کمپیوټرونو به د اداري چارو د چټکتیا او د ښوونکو او زده کوونکو د پوهې د کچې په لوړولو کې ګټه واخلي.

د یو بل خبر له مخې د یاد ولایت د مرکز جلال آباد ښار د مرکزي لیسو مدیرانو او سرښوونکو ته په لومړنیو ټولګیو کې د ټکنالوجي پرمټ د لوست پیاوړتیا تر سرلیك لاندې روزنیز ورکشاپ هم پیل شو.

دغه ورکشاپ د آسیا بنسټ په مالي مرسته جوړ شوی، چې د جلال آباد ښار د څلورو مرکزي لیسو ۱۴۰ تنه مدیران، مرستیالان، سرښوونکي، ښوونکي او د څارنې غړي پکې برخه لري. د ورکشاپ ګډونوال ته په دریو پړاونو کې د بېلابېلو ښوونیزو مسایلو په اړه روزنه ورکول کېږي

د لومړي مخ پاتې

## یونیسف له پوهنې ...

د ۱۰۰۰ بابه ټولګیو جوړول، د محلي او چټکو زده کړو د ۷ زره ټولګیو جوړول، د محلي زده کړو ټولګیو د ۷ زره ښوونکو روزل، د ۱۵۰۰ ښځینه ښوونکو لپاره د تحصیلي بورسونو برابرول، له لومړي تر دولسم ټولګي پورې د یو میلیون زده کوونکو لپاره د درسي موادو برابرول او د هغو ښوونځیو د ۱۲۰ زره نجونو او هلکانو زده کوونکو لپاره د دوامداره او باکیفیته ښوونیزو فرصتونو برابرول، چې تر بېړنیو شرایطو لاندې وي، هم شامل دي.

په افغانستان کې د یونیسف موسسې مشرې ادیل خُدر له پوهنې وزارت سره د شوې مرستې له امله خوښي وښوده او دا یې د افغانستان د پوهنې نظام په پیاوړتیا او پراختیا کې یو مهم ګام وباله. هغې د پوهنې وزارت د لاسته راوړونو ستاینه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې له دې وزارت سره به په بېلابېلو برخو کې خپلو مرستو او همکاریو ته دوام ورکړي.

د یادولو وړ ده، چې ددغو مرستو پر مټ به پوهنې وزارت د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو په ترڅ کې وکولای شي، چې د ستراتیژیو، پلان جوړولو، همغږۍ او مدیریت او ښوونیز نظارت په برخه کې ظرفیتونه لوړ او زده کوونکو په ځانګړي ډول نجونو ته به د متوازنو او باکیفیته زده کړو اسانتیاوې برابرې کړي. دغه راز به د ښوونې او روزنې مسوولین، کورنۍ او ټولنې پردې وتوانیږي، چې نجونو او هلکانو ته د لومړنیو او منځنیو زده کړو زمینه هم برابره کړي.

د لومړي مخ پاتې

## د پوهنې د سمون ...

قوانین، تعلیمي نصاب او داسې نورې دي، چې اړوند چارواکي به یې په اړه خپلې چارې تنظیموي او پرمختګ به ورکوي.

پوهنې وزارت په پام کې لري، چې د پوهنې د دریم ملي ستراتیژیک پلان او د میک د رپوټ د موندنو په چوکاټ کې د یاد وزارت اوسنی حالت بدل کړي، چې په پایله کې به یې چارې چټکې، موثرې او داسې شي، چې اغېز یې د پوهنې پر کیفیت ولیدل شي. ددې پلان طرح د هېواد له مشرتابه او مرستندویه ادارو سره هم شریکه شوې او د هغوی لخوا یې هرکلی شوی دی. بایډ وویل شي، چې ولسمشر محمد اشرف غني هم په پوهنې وزارت کې د اصلاحاتو جدي غوښتونکی دی او په دې برخه کې پرمختګونه هره اونۍ د بشري سرچینو په عالي شورا کې اوري او بحث وربا ندې کوي.

## تدویر ورکشاپ های آموزشی برای اعضای شورا های مکاتب ۱۳ ولایت

به هدف سهم مردم در معارف، شمولیت اطفال به خصوص دختران به مکتب در مناطق مختلف کشور و تحرک اجتماعی، ورکشاپ سه روزه آغاز به کار کرد. اهداف مهم و اساسی این ورکشاپ که به منظور آموزش اعضای شوراهای مکاتب راه اندازی شده، چگونه می توان پسران و دختران خود را به خاطر آینده درخشان به فراگیری تعلیم تشویق نمائیم که اطفال در این راه به میل خود بیاموزند. با توجه به سهیم بودن مردم به معارف این کمپاین به ابتکار ریاست شوراهای مکاتب و تحرک اجتماعی آغاز گردیده است.

محترم ضیأ الحق صافی رئیس شوراها و تحرک اجتماعی در مورد گفت: «این ورکشاپ ها در سیزده ولایت پلان شده که مرحله اولی آن همین اکنون در ولایت های ننگرهار- هلمند- قندهار- فراه و هرات جریان دارد که در آن ۱۴۴۰ تن از ۹۶ شورا که ٪۲۵ آنرا بانوان تشکیل میدهد، اشتراک دارند. در این ورکشاپ ها نظریات مردم بخصوص مشکلات شورا های مکاتب و والدین استماع می شود و هم چنان در مورد شمولیت اطفال به ویژه دختران به مکتب بحث صورت گرفته و در راستای موانع آن راه های حل جستجو می گردد.

هکذا طی این ورکشاپ ها میان اعضای شوراهای مکاتب تبادل نظر و تجربیات صورت گرفته و زمینه فراگیری بیشتر علم برای اطفال اعم از پسران و دختران فراهم گردد.

هم چنان در جریان این ورکشاپ ها کارهای انجام شده شورا ها هم مورد ارزیابی قرار می گیرد. شوراهای مکاتب که به اساس ماده ۴۸ قانون معارف ایجاد شده ۱۵ تن اعضا دارد که در تفاهم با مسوولان مکاتب، متنفذین محلی والدین شاگردان و سایر شخصیت های ذیدخل به خاطر تقویه و بهبود نظام آموزشی کشور فعالیت دارد.علاوتاً این شوراها در بخش بازگشایی مکاتب مسدود شده جدوجهد جدی نموده که در نتیجه ده ها مکتب در ولایات مختلفه دو باره بازگشایی شده است.گفتنی است که امسال به اثر تلاش این شورا ها حدود ۱۲ هزار طفل واجد شرایط مکتب هموطنان مهاجر ما در ولایات کابل- ننگرهار و هلمند به مکتب جذب شده اند.

## خلک

له ما ګوښه دي له ما ډېر لري ودان دي خلک
زه توري خاوري يم او ستوري د اسمان دي خلک
زه وم يو زخم، ځکه مالګي دوړولې هر چا
زه يم يو ګل، ځکه ملګري د خزان دي خلک
د چا تر سر تېر شه اشنا چي دروازه جوړه شي
لکه دېوال ولاړ زما او ستا تر ميان دي خلک
زړونه يې وګوره چي تور نه وي د کفر په شان
مخ ته يې مه ګوره چي سپين لکه ايمان دي خلک
تر څو چي وړي وي درويشه نو دوستي يې ښه ده
پر خزانه باندي چي کښيني تور ماران دي خلک

راليږونکی: نجيم

## ضمير

له بدو څرنګه لاس واخلي چې ضمير نه لري
شيطان به وتړي په څه باندې، زنځير نه لري
هر څه په خپله خوښه کاندي، بل ته غوږ نه نيسي
زړه د بدن داسي باچا دی چې وزير نه لري
خپل خيرن زړه به نو په کومه رڼا باندې وينځي
که سړی ټول عمر خوشاله وي او وير نه لري
زما زړګی به هم تل نه ګوري د غشو لاره
او ستا باڼه به هم مدام داسي تاثير نه لري
دا دومره ژر چې ټولوي درويشه داسي ښکاري
چې له جهانه د تګ نيت د ښار امير نه لري

راليږونکی: عزير

## د ځلورو ملګرتيا

اوريدلی مې نومونه هم ځلور دي

نازل شوي کتابونه هم ځلور دي

دځلور فرشتو په لاس نظام دی

امامان دي مسلکونو هم ځلور دي

په ځلور بازو ګانو دې سفر دی

جنازه کې تکبيرونه هم ځلور دي

رحمان وائي د ځلور و ملګرتيا کره

ستا دقبر ديوالونه هم ځلور دي

راليږونکې: نفيسه

## ای انسانه

- دنيا لپاره دومره خواری وکاږه څومره چی ته دلته اوسيږې
- آخرت لپاره دومره خواری وکاږه څومره چې هلته اوسيږې
- دالله رضا لپاره دومره کوشش وکړه څومره چې ورته محتاجه يې
- ګناه دمره وکړه څومره چې يې عذاب زغملای شي.
- يوازی دهغه څخه يې وغواړه چې د هيچا محتاج نده

راليږونکې: حسيبا

## سخنان بزرگان در باره تعليم و تربيت

معلم بر جاودانگی اثر می‌گذارد و هرگز نمی‌توان گفت اثر او کی متوقف می‌شود
معلم کسی است که خود را به صورت پیش‌رونده‌ای غیرضروری می‌سازد
معلم معمولی، می‌گوید؛ معلم خوب، توضیح می‌دهد؛ معلم برتر به نمایش می‌گذارد؛ معلم بزرگ، الهام می‌بخشد
معلم خوب، بهتر از معلم جذاب است؛ زیرا معلم جذاب، تدریس را تحت الشعاع قرار می‌دهد
هر حقیقتی، چهار گوشه دارد؛ من به‌عنوان معلم، یک گوشهٔ آن را به شما نشان می‌دهم؛ بر شماست که سه تای دیگر را بیابید
برترین نتیجهٔ تربیت، تحمل است
تدریس خوب، از افراد خوب برمی‌آید
یک روز با یک معلم بزرگ بودن، برتر از هزار روز مطالعهٔ مجدانه است
زندگی زیر چتر علم و آگاهی آن‌قدر شیرین، و انس با کتاب و قلم و اندوخته‌ها آن‌قدر خاطره‌آفرین و پایدار است که همه تلخی‌ها و ناکامی‌های دیگر را از یاد می‌برد
ملت از راه آزادی به تعلیم و تربیت دست می یابند، نه برعکس

راليږونکی: رساله

## سیاه دانه

سیاه دانه را پیامبر اکرم (ص) درمان هر دردی به جز مرک می دانست . خواص و فواید سیاه دانه و عسل به قدری فراوان هستند که از درد ناخن پا تا درد و بیماری های نوک موی سر را می توان با آن در مان کرد .
سیاه دانه طمعی تلخ دارد و به عنوان ادویه ودر مواد غذایی به خصوص ترشیجات استفاده میشود . و مصرف سیاه دانه در کاهیش قند خون فشار خون و در درمان دیابت بیماری های قلبی کم خونی موی رفتگی و تقویت موی سر مفید است . و همچنان به زنان شیر ده بسیار مفید است زیرا با عث افزایش ترشح شیر میشود . معجون ترکیبی از عسل وسیاه دانه که تهیه آن بسیار ساده و در عین حال موثری هست که از قدیم در طب سنتی محبوب بوده و برای درمان بیماری های مختلفی از آن استفاده می شد.سیاهدانه در ترکیبات مختلف، اثرات درمانی متفاوتی دارد .

Namnak.com

ارسالی: عابده عابدی

## خواص سرکه سیب

سرکه سیب یک ماده مفید دارای خواص ضد باکتری ضد التهاب است و برای تقویت پوست - مو - هضم غذا - پوکی استخوان مورد استفاده قرار میگیرد .
سرکه سیب سر شار از مواد مغذی ای است که به لاغر شدن کمک میکند و هضم غذا را راحت تر میسازد و خواصی دارد که با گلسترول - فشار خون بالا - پیری زود رس - عفونت گوش مقابله میکند . واگر میخواید دندان های سفید داشته باشید صبح یک بار غرغره کرده و همچنان با غرغره کردن سرکه سیب باکتریای دهن و عفونت های بیره از بین رفته و در سفید کردن دندان ها کمک میکند .
با اینحال ازان در زمینه های محتلفی از زیبایی گرفته تا سلامتی استفاده میگردد . بعضی از افراد سرکه سیب را با عسل مخلوت کرده مصرف میکنند که به کاهیش فشار خون بالا - چربی خون ولاغری تاثیر مثبت دارد .

ارسالی: عابده عابدی

## سبزیجات از کالوری پایینی برخوردار هستند

در حدود یک سوم مردم دنیا از بیماری چاقی رنج می برند. به منظور کاهش وزن، باید از غذاهایی با کالوری پایین استفاده کرده و تحرک خود را نیز افزایش دهید. استفاده سبزیجات از اهمیت ویژه ای برخوردار می باشد. مردم اکثراً به خوردن غذاهای با چربی بالا تمایل زیادی نشان می دهند. رژیم غذایی چرب، ریسک ابتلا به بیماری های قلبی و انواع خاصی از سرطان ها را افزایش می دهد. از سوی دیگر چربی هایی که باعث ایجاد ناراحتی قلبی می شوند در سبزیجات در پایین ترین حد خود قرار دارند. بسیاری از خوراک های حیوانی مقادیر زیادی کلسترول در خود جای می دهند. مصرف اینگونه غذاها، کلسترول موجود در خون را افزایش داده و موجب بالا رفتن خطر ابتلای بیماری های قلبی نیز می شوند. از آنجاییکه سبزیجات فاقد کلسترول می باشند می توانند از بروز این بیماری کشنده در افراد جلوگیری کنند.

گل‌آغا احمدي وردگ

## محمد حنيف اتمر د پوهنې دوه څلويښتم وزير

ښاغلي محمد حنيف اتمر له ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۸۷ کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزير په توګه دنده اجرا کړې ده. ښاغلی محمد حنيف اتمر د محمد آصف اتمر زوی چې په ۱۳۴۷ کال د لغمان په ولايت کې زيږېدلی دی، د افغانستان د کليو د پراختيا، پوهنې او کورنيو چارو د وزير په توګه يې دندې اجرا کړې دي. ښاغلي محمد حنيف اتمر خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې د هېواد د ننه، د



کمپيوټر او معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د معادل لېسانس زده کړې په لندن او په ۱۳۷۷ کال د انګلستان د يارک له پوهنتون څخه يې د نړيوالو اړيکو او پراختيا په برخه کې ماسټري لاسته راوړې ده. ښاغلي محمد حنيف اتمر له ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې د غير دولتي موسساتو په چوکاټ کې په بشري او عمراني چارو بوخت وو او له افغان مهاجرينو سره يې د مرستو ګڼ پروګرامونه تنظيم کړي دي. محمد حنيف اتمر په ۱۳۸۱ کال د کليو د پراختيا د وزير په توګه و ټاکل شو او د لومړي ځل لپاره يې په هېواد کې د ملي پيوستون پروګرامونه پلي کړل. نوموړی په ۱۳۸۵ کال د پوهنې د وزير په توګه په دنده و ټاکل شو او په ۱۳۸۷ کال د کورنيو د چارو وزير شو چې تر ۱۳۸۹ کال پورې يې دغه دنده مخته يوړه. ښاغلی محمد حنيف اتمر د ۱۳۹۳ کال د تلې د مياشتې په ۸ مه نېټه د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا د ملي امنيت د شورا د سلاکار په توګه و ټاکل شو او له ټاکل کېدو سره سم يې د افغانستان په استازيتوب د امريکا د متحده ايالاتو سره امنيتي تړون لاسليک کړ.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 226, Month January 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# له پوهنې وزارت سره د ۳۱۷ میلیون افغانیو په ارزښت ۱۴ هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د افغانستان د پوهنې وزارت له بېلابېلو موسسو او انجیوګانو سره د ۳۱۷ میلیون افغانیو په ارزښت د مرستو او همکاریو ۱۴ هوکړه لیکونه لاسلیک کړل .

دغه مرستې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ښوونکو د ظرفیتونو پر لوړولو، د ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو پر جوړولو، د سواد زده کړو کورسونو، د محلي او چټکو زده کړو ټولګیو، د زده کوونکو لپاره د کانکور د چمتوالي، کمپیوټر او انګلیسي ژبې ټولګیو پر جوړولو، عامه پوهاوي، د درسي موادو پر برابرولو او په ټوله کې د ښوونیز نظام پر ودې او پیاوړتیا باندې لګېږي.

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ابراهیم شینواري د ښوونیز نظام د پیاوړتیا او پراختیا په برخه کې ددغو هوکړه لیکونو لاسلیکول خورا مهم وبلل او یادونه یې وکړه، چې پوهنې وزارت تل هڅه کړې د خپلو هر اړخیزو اوږد مهالو او لنډمهالو پروګرامونو پرمټ د پوهنې نظام ته په کمي او کیفي ډول وده او پراختیا ورکړي.

ښاغلي شینواري د افغانستان له پوهنې وزارت سره د ملاتړو موسسو، انجیوګانو او په ټوله کې د نړیوالې ټولنې له مرستو او همکاریو مننه او قدرداني وکړ

.پوهنې وزارت لومړی هوکړه لیک له افغان روزنیز انستیتوت سره لاسلیک کړ، چې له مخې به یې په کابل، هرات، بامیانو، میدان وردګ، دایکنډي، بلخ، غور، پنجشېر او بادغیس ولایتونو کې ۲۸۰۰ تنه ښوونکو ته د روزنیزو سیمنارونو له لارې د تدریس نوي میتودونه او لارې چارې ور وښول شي .

دغه پروګرام، چې د پنځو کلونو په ترڅ کې عملي کېږي ۳۳۲ زره امریکایي ډالره لګښت پرې راځي.

د یادو ۱۴ تړونونو له ډلې ۳ یې د ستاره عرفان موسسې سره لاسلیک شول، چې د لومړي تړون پر بنسټ به یاده موسسه د بدخشان ولایت په اشکاشم ولسوالی کې د «راه ابریشم» په نوم ښوونځي ته ۶ ټولګي ودانۍ جوړه کړي، په کابل، لغمان، ننګرهار، کنړ، خوست او پکتیا ولایتونو کې به پر ښوونځیو ۱۰۹ خیمې ووېشي او په ننګرهار کې به د کاتب نجم الجهاد او بادینزي ښوونځیو، په کابل کې د میر افغان ښوونځي او په کاپیسا ولایت کې به د مراد خواجه ښوونځي ته د احاطې دېوالونه جوړ کړي.

یاده موسسه به د دویم تړون پر اساس په کابل ښار، کابل، ننګرهار، لغمان، کنړ او بدخشان ولایتونو کې د چټکو زده کړو ټولګي، د کانکور د چمتوالي او کمپیوټر او انګلیسي ژبې ټولګي او روزنیز مرکزونه جوړ کړي او دغه راز به نژدې ۱۴ زره زده کوونکو لپاره قرطاسه او درسي مواد برابر کړي.

د دریمې هوکړې له مخې به ستاره عرفان موسسه په کابل، ننګرهار، لغمان، کنړ او بدخشان ولایتونو کې د ۱۱۳۴ مېرمنو لپاره د سواد زده کړې ۲۷ کورسونه او د ۸۳۷ مېرمنو لپاره د خیاطۍ ۲۷ حرفوي کورسونه جوړ کړي.

د یادو درې واړو تړونونو ټولیز ارزښت نژدې ۱،۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

د پوهنې وزارت او د بریتانیا د جګړه ځپلو ماشومانو له موسسې سره د شوي تړون پر اساس به یاده موسسه په ننګرهار، لغمان او فراه ولایتونو کې د ۱۵ زره ماشومانو لپاره د محلي او چټکو زده کړو ټولګي جوړ کړي.

دغه پروګرام د یوه کاَل په ترڅ کې عملي کېږي او شاوخوا ۵۶ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي .

شپږم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او ټي.ډي.ایچ موسسې ترمنځ لاسلیک شو، چې پر بنسټ به یې یاده موسسه د تخار ولایت په رُستاق ولسوالۍ کې د ۵۰۰ نجونو او هلکانو زده کوونکو لپاره د سواد زده کړې ۴۸ ټولګي جوړ کړي.

دغه پروګرام د یوه کال په ترڅ کې عملي کېږي او څه باندې ۷،۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي .

اووم هوکړه لیک د پوهنې وزارت او د جاپان د اضطراري موسسې ترمنځ د ۶۷۸ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیک شو.



ددغې هوکړې پر اساس به یاده موسسه دوه بابه ښوونځیو ته نوې ودانۍ جوړې کړي او د پروان ولایت په چاریکارو ښار کې به ۳۶۰۰ زده کوونکو ته د حفظ الصحوي، د حوادثو د خطرونو د کموالي او نورو روغتیایي برخو په اړه روزنه ورکړي.

د پوهنې وزارت او وار چایلد کاناډا موسسې ترمنځ د شوې هوکړې پر اساس به یاده موسسه په لوګر او کندهار ولایتونو کې ۹ زره زده کوونکو ته د محلي او چټکو زده کړو ټولګي جوړ کړي.

ددغې هوکړې ارزښت ۵۵۶ زره امریکایي ډالرو ته رسیږي، چې د یو کال په ترڅ کې عملي کېږي.

له دې موسسې سره د دویم هوکړه لیک پر اساس به په کابل، ننګرهار او کندهار ولایتونو کې د زده کوونکو د ساتنې او حفاظت ۱۹۲ کمېټې جوړې شي او دغه راز به د یادو ولایتونو ۳۸۰ تنه ښوونکي د تدریس له نویو لارو چارو سره بلد شي.

ددې هوکړې ټولیز ارزښت نژدې ۳۶،۸ میلیون افغانیو ته رسیږي، چې د درې کلونو په ترڅ کې به عملي شي.

لسم هوکړه لیک، چې د پوهنې وزارت او کوار موسسې ترمنځ لاسلیک شو له مخې یې په تخار او کندهار ولایتونو کې ۲۶۰۰ نجونو او هلکانو زده کوونکو ته ۵۶ د محلي او چټکو زده کړو ټولګي جوړیږي.

ددې تړون ارزښت نژدې ۲۰،۲ میلیون افغانیو ته رسیږي، چې د یو کال په ترڅ کې به عملي شي .

په بامیانو ولایت کې د ۱۷۵ زده کوونکو لپاره ۴ بابه روزنیزو ټولګي د هغې هوکړې پر اساس جوړیږي، چې د پوهنې وزارت او نی قلعه موسسې ترمنځ د ۳۲۸ زره افغانیو په ارزښت لاسلیک شو.

د پوهنې وزارت او د جهان ټولنیزو خدمتونو موسسې ترمنځ په لاسلیک شوي تړون کې چې ارزښت یې څه باندې ۹ میلیون افغانیو ته رسیږي د ۱۶۰ ښوونکو او مدیرانو لپاره په بېلابېلو برخو کې د روزنیزو ورکشاپونو جوړول او په ننګرهار، لغمان او بامیانو کې د زده کوونکو لپاره د سپورتي لوبغالو جوړول شامل دي .

رلیف انټرنېشنل موسسه به له پوهنې وزارت سره د شوي تړون پر اساس په ننګرهار، کاپیسا او غزني ولایتونو کې ۴۰ تنه ښوونکو ته د تېټ عمر د ودونو د کچې د را کمولو او د هغو د خطرونو په اړه روزنه ورکوي. دغه پروګرام د ۳۹ زره امریکایي ډالرو په ارزښت په یادو درې ولایتونو کې عملي کېږي. څوارلسم او وروستی هوکړه لیک د پوهنې وزارت او ټولنیزو او تعلیمي خدمتونو له موسسې سره د نژدې ۱۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت لاسلیک شو، چې په ترڅ کې به یې یاده موسسه په کابل، بلخ او هرات ولایتونو کې د ۳۰ بابه ښوونځیو زده کوونکو ته په بهر کې د تحصیلي بورسونو، ټافل آزموینې او په نورو بېلابېلو برخو کې ښوونیزې مشورې ورکړي.

## افتتاح تعمیر جدید برای محصلین اناث در دارالمعلمین لوگر

تعمیر جدید تدریسی برای محصلین اناث در دارالمعلمین ولایت لوگر توسط محمد حلیم فدایی والی، انجینر محمداکبر ستانکزی رییس معارف در حالیکه مسوولین ادارات دولتی نیز حضور داشتند، با قطع نوار افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در یک طبقه به کمک مالی کشور هندوستان به مصرف مجموعی ۱۳ میلیون افغانی در مدت ۹ ماه اعمار گردیده، که دارای ۸ صنف درسی، ۴ اتاق اداری، یک لابراتوار، یک کتابخانه، ۱۶۰ پایه میز و چوکی برای محصلین با سایر ملحقات ضروری می باشد. با اعمار تعمیر متذکره مشکل محصلین اناث دارالمعلمین یاد شده از ناحیه نبود تعمیر مرفوع گردیده است.

گفتنی است که در ولایت لوگر به تعداد ۶۵۹ تن که ۱۸۷ تن آن محصلین اناث می باشند در دارالمعلمین مرکزی و ۵ باب الحاقیه آن مصروف تحصیلات نیمه عالی هستند.

## لوګر کې ۳۱ ښوونځي بیا رغول شوي

په تېرو دریو میاشتو کې د لوګر په مرکز او ولسوالیو کې د ۳۱ ښوونځیو د ودانیو رغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

په یاده موده کې د ۲۷ ښوونځیو ودانۍ د پوهنې وزارت د پرمختیایي بودیجې او ۴ نور ښوونځي د عرفان موسسې له لوري ترمیم او بیا رغول شوي دي.

د دغو ښوونځیو پر رغولو ۱۱،۷ افغانۍ لګېدلي، چې لس میلیونه درې لکه پنځه اویا زره یې د پوهنې وزارت او پاتې نورې د عرفان موسسې له خوا ورکړل شوي دي. د نوموړو ښوونځیو په رغولو سره شاوخوا ۳۵ زرو زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپېریال برابر شوی او هم د ښوونځیو ډېرې ستونزې هوارې شوې دي. د لوګر د پوهنې ریاست په تیرو کلونو کې هم زیات شمېر ښوونځي رغولي او په راتلونکي کال کې پنځوس نور ښوونځي هم رغوي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین: بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت